ډاکټر لمر

# افغانستان د آسیا د سیمه ییزو ناخوالو تود ډګر

افغانانو په وروستیو څو لسیزو کې خپل هېواد په کنډواله بدل کړ. د دغه مضمني جګړې په ترڅ کې یې له ۲ میلیونو ډېر خلک مړه شول، ګڼشمېر خلک یې مهاجر، څومیلیونه معیوبین او معلولین شول. د کونډو، بورو، رنډو او یتیمانو شمېر یې هم تر څو میلیونو واوښت او نن سبا یې ۲۰ میلیونه خلک د لوږې له ګواښ سره مخامخ دي، چې په دویم بُن کې هم ښاغلي حامد کرزي د دروېزې اوږد لاس بهرنیو ملکونو ته نیولی ؤ او د نورو لسو کلونو د اقتصادي مرستې زارۍ یې کولې.

زه لکه یو افغان د افغانستان په دغه حالت هم شرمېږم او هم ځورېږم، خو له لاسه مې ډېر څه هم نه راځي، ځکه چې لکه ما غوندې په میلیوناوو افغانان د افغانستان د سیاسي لوبو قرباني دي یا مهاجرتونو ته اړ شوي او زه هم د زړه تناکه په لیکنو ویلې کوم. یو شمېر دوستان به وایي، چې مهاجره ! ورځه خو دې ښه تېرېږي، شپه دې توده ده او خېټه دې هم مړه ده ! مګر یو شی باید په یاد ولرو چې په هېڅ پردي ملک کې یو انسان هوسا ژوند نشي درلودلی، پرته له خپل هېواده، ځکه نو ښه ویل شوي، چې خپل وطن هر چا ته کشمیر دی او یا ویل کېږي، چې مېلمستیا ښه ده، مګر پخپل کور کې درنه ده !

په افغانانو کې داسې یو ذهنیت دی، چې د افغانستان د هرې ناخوالې ښه او بد په بهرنیو ملکونو په تېره بیا په ګاونډیو کې لټول کېږي، د فارسي یو متل دی، چې وایي: مالت را هوش کن، همسایه ات را دزد نګیر !، نو افغانان دې هم د خپل هېواد په اړه فکر وکړي، ځکه چې د افغاني ټولنې د ننیو ستونزو منافقتونه ټول د یو شمېر په افغاني ذهنیت کې نغښتي دي. زما د دغه لیکنې د احساساتو اړخ او عیني انځور څه موده مخکې په کابل ښار کې د شیعه ګانو په یوه مذهبي لمانځنه کې د بمونو چاودنه ده، چې زما سره یې داسې پوښتنه رامنځ ته کړه، چې څه شی د دې سبب شول چې په یوه مذهبي فرقه باندې داسې برید وشي؟ او افغانستان دا دې څو لسیزې کېږي چې د قومي او مذهبي جګړې ډګر ګرځېدلی؟




له ډېرو سره به دا پوښتنه په سر کې ګرځي، چې ولې اتحاد شوروي په افغانستان یرغل وکړ؟ ټولو ته معلومه ده، چې روسیې یا سابقه اتحاد شوروي د څو لسیزو په اوږدو کې له ټولې لوېدیزوالې نړۍ سره په ساړه جنګ کې

ښکیله وه، دویمه نړیواله جګړه یې له جرمنانو وګټله او د دغه بري سره سم یې وروسته له دویمې نړیوالې جګړې په دونیا کې سوسیالیستي سیستم رامنځ ته کړ، چې د اتحاد شوروي د ۱۵ اتحادي جمهوریتونو تر څنګ یې په شرقي اروپایي ملکونو کې هم ۱۵ ملکونه لاندې کړل او په نړۍ کې بیا د یو شمېر نور ملکونو چې دیموکراتیک ورستاړې وړپورې ترړل شوي ؤ د سابقه شوروي اتحاد په مداخلو جوړ شول، چې د روسیې د نظامي او اقتصادي اغېز تر سیوري لاندې ول، نو په افغانستان کې د سرې غمیزې رامنځ ته کېدلو هم د روسیې خیالونه پیاوړي کړل، چې د هند په تودو اوبو کې هم لامبو ووهي.

د روسانو خو دا یو خیال ؤ، مګر روسان افغاني ټولنه سمه نه وه څېړلې، چې د افغانستان د واکمنانو په سر کې څه تېرېدل. د شهید سردار محمد داود خان له واکمنې او بیا د سرې غمېزې د رامنځ ته کېدو سره سم د چپیانو تبۍ هم توده شوه، چې یو په بل پسې یې راواخیسته او په خپله بتۍ کې یې یو او بل ډاډه کړل او په افغانستان کې له ۱۹۷۸ میلادي کاله د شنو او سرو غوبل هم پیل شو او دغه جګړې د اتحاد شوروي بېخ پرې وایست، خو د افغانستان هېواد یې هم په وینو کې ولمباوه، چې تر ننه یې له پرهارونو وینې څڅېږي.

ولې داسې وشول؟ ځواب دا دی، چې د افغانستان له بې امنیتي سره د شوروي اتحاد د آسیایي جمهوریتونو د سرحدونو د بې امنیتي او د شنو د اور د لمبو د خوځېدنې ګواښ د سابقه شوروي قرغزیستان، قزاقستان، تاجکستان، اوزبکستان او تورکمنیستان ته هم رامنځ ته شو، په افغانستان کې د خلکي او پرچمي شخړې او د مجاهدینو تاوده سنګرونه هم د شوروي اتحاد لپاره ښې پلمې شوې، نو شوروي اتحاد بله لاره نه درلوده، ځکه یې په افغانستان د سروپوځونو یرغل تر سره کړ او بکوف یې د افغانستان لاسپوڅی واکمن کړ، چې د خلکو خبره په ټانګ یې سپور تر کابله راوست!

د ۱۹۷۹ میلادي کال د ډیسامبر په ۲۷ نېټه د روسانو یرغل پر افغانستان وشو او د ۱۹۸۹ میلادي کال د فبروري تر ۱۵ نېټه یې دوام وکړ، مګر روسانو ونشوی کولی چې د افغانستان په جګړه کې بری تر لاسه کړي، نو اړ شول خپله ماته ومني او تېښته خپله کړي، خو افغانان هم پخپلو کې جنګېدل او هم یې د سابقه اتحاد شوروي سرحدونه په لمبو تاوده کړل، خو تر ټولو بد حالت د افغانستان په لاسپوڅې او له فساده ډکه اداره کې ؤ، چې سابقه شوروي اتحاد یې په کونه کېناوه، چې اداري ضربه ورته افغاني کمونیستانو ورکړه، اقتصادي او نظامي جرړه یې مجاهدینو په چرکي جنګونو وایستله.

دلته دوې پوښتنې رامنځ ته کېږي، یوه دا چې آیا روسیې د دې رښته درلوده چې د خپل جیوپولیټیک غوښتنو سره د خپلو جنوبي سرحداتو دفاع وکړي؟ او بله بیا دا ده چې آیا افغانانو د دې حق درلو چې د خپل هېواد د خپلواکۍ لپاره د روس په ضد جهاد وکړي؟ نو په دواړ حالتونو کې به ځواب «هو!» وي، مګر دریمه پوښتنه هم شته، هغه دا چې کوم ملک د دې شرایط رامنځ ته کړل، چې په سیمه کې دغه ناورین رامنځ ته شي، نو ځواب یو دی! د ثور سره

غمیزه...، موږ افغانانو په یو او بل ظلم شروع کړ، یو او بل مو په بېلا بېلو نومونو ووژل، په افغانستان کې مو د سرو او شنو جنګ پیل کړ او د سیمې ټول چاپېریال ملکونه مو د بې امنیتي له ګواښ سره مخامخ کړل. د ثور د غمیزې په اړه خو روسان تر ننه وايي، چې د دغه کودتا نه دېر وروسته خبر شول او وايي، چې دغه کار د افغانانو وو او وروسته یې د شوروي اتحاد لاسوهنو ته زمینه برابره کړه.

د افغانستان د غمیزې پیل په ۱۹۷۸ میلادي کال د کمونیستي او که ووايو د غوبيي کودتا سره سمون لري او دغه غمیزه دا دي له دریبو لسیزو هم وواښته او پای یې لا نه لیدل کېږي. د مجاهدینو په موده کې هم افغانستان په ملکلطوايفي واوښت، چې د افغانستان ټولو ګاوندیو ته یې د دې زمینه برابره کړه، چې د افغانستان په چارو کې لاسوهنه وکړي، ځکه چې دغه ګاونډیو هېوادونو د خپل امنیت مخاطره یې په افغانستان کې لیدله، نو د دغو ملکونو په ګټه وه، چې افغانان سره وجنګوي، چې د دوی ملکونه ترې آرامه وي. پرته له هغې خو افغانانو د نړیوال اسلامیزېشن سوګند کړی وو، چې افغاني مجاهدین د فلسطین، عراق، بوسنیا، فرغانې، چیچینیا، قفقاز او آذربایجان په جبهاتو کې جنګېدل، نو د روسانو په ګټه هم دا وه، چې افغانان په افغانستان کې په ایتنیکي ګروپونو ووېشي او په خپلو کې یې د پښتون، ازبک، تاجک، هزاره او داسې نور سره واچوي او ویې جنګوي، چې د غه سناریو روسیې، ایران، پاکستان او اوزبکستان په ډېره ښه توګه پلې هم کړه، خو قرباني یې افغانان شول او ملک هم د افغانانو وران شو.


USAF/Getty Images

د طالبانو په موده کې هم افغانستان د نړیوالو بنسټپالو مرکز وګرځېد چې په سیمه کې یې د ایران، هندوستان او روسیې جیوپولیتیک احساسات راوپارول، چې افغانستان له ټولو خوا او تجرید شو او په سیاسي بم بس کې ښکېل شو، خو د القاعده د غړو په ساتلو یې د امریکایي یرغل لپاره هم زمینه مساعده کړه، چې دا دي د امریکایي تیري لسمه کلیزه پوره شوه، خو افغان ملت لا هم د لوږې، بې امنیتي او اداري فساده سره لاس او ګرېوان دی.

افغانستان هغه مملکت دی، چې د خپلې بې اتفاقي او بې کیفیتي له لاسه یې د امریکایانو له موجودیت سره د آسیا ټولې سیمې ته یو لوی ګواښ رامنځ ته کړی، نو طبیعي خبره ده، چې د سیمې ملکونه دې ته اړ دي، چې د امریکایانو څخه د خپلو ملکونو د ساتلو لپاره له نورو ملکونو سره لاس یو کړي چې ښه بېلګه یې د ایران او روسیې، د پاکستان او چین همکاري ده. د نړیوال کنټرول لپاره بیا روسیه او چین هڅه کوي له هندوستان سره یو ځای د امریکا په‌ضد په سیمه کې یو نوی نظامي اتحاد رامنځ ته کړي، خو د افغانستان به څه حال وي، نو یو خدای پوهېږي.

امریکا زموږ ګاونډی مملکت نه دی، څرنګه چې روسانو پر افغانستان یرغل کړی وو، نو همدارنګ امریکایانو هم پر افغانستان تیری کړی دی، نو د هغه مهال او اوسمهال اشغال کوم توپیر نه لري. مګر په سیمه کې د امریکایانو شتون افغانستان د آسیایي ملکونو د ګواښونو مرکز کرځولی، چې پایله یې په افغانستان کې تلپاتې جګړه ده، چې لکه ناسور زموږ ټولنه خوري او له منځه یې وړي.

په افغانستان کې د دې هڅه کېږي، چې هندوستان ته ځان نږدې کړي او له بل پلوه امریکا ته د نظامي اډو ژمنه وکړي، چې په هندوستان پاکستان پاروي او په امریکا هم ایران او منځنۍ آسیا یعنې روسیه، چې له دغو ملکونو سره افغانستان له ۴۰۰۰ کیلومترو ډېره ګډه پوله لري او له پاکستان سره خو لا د ډیورند کرښه هم لکه ناسور پاتې ده، نو دغه ټول شرایط د دې سبب ګرځي چې په افغانستان کې جګړه یو تلپاتې بهیر خپل کړي.

په داسې له ستونزو ډک حالت کې افغانان څه وکړي، چې د دغو سیمه ییز او نړیوالو سازشونو ځان خلاص کړي او خپلو خلکو ته یو هوسا افغانستان ورپه برخه کړي. دغه موخې ته د رسېدلو لپاره افغانان یو ملي دریځ ته اړتیا لري، چې بنسټ یې افغانپالنه وي، نه قومپالنه. د پښتنو او نورو قومونو تر منځ د پوهاوي او زغم پیاوړتیا او د اعتماد چاپېریال دی او له ګاونډیو سره د سم سلوک امکانات رامنځ ته کول دي.

نن سبا ایران او امریکا له یو او بل سره ښکر په ښکر شوي دي او د دې ډېر امکانات شته چې په سیمه کې نړیواله جګړه رامنځ ته شي. امریکایان په دې پوهېږي، چې د ایران اتومي رییکټرونه د ایران په ټوله خاوره کې خپاره دي او د اسراییلو په یوه هوایي حمله کې نه شي کېدلی چې د ایران اتومي مرکزونه له منځه لاړ شي، خو امریکایان کولی شي په غیر اتومي بمونو او راکټونو د ایران تر لسو زرو ډېرو نظامي مرکزونو په یوه شپه کې حمله وکړي، چې په داسې حالت کې به ټول ایران د اور په سکروټو واوړي، چې په یوه شپه کې د دوو میلیونو ایرانیانو د مړینې ګواښ هم ورسره مل دی، نو کله چې افغانستان د ایران دوښمن ته په خپل ټټر کې ځای ورکوي، نو ایران افغانستان ته د ګولونو ګېډۍ راولېږي او که د امریکایانو ضد جبهه په افغانستان کې پیاوړې کړي او خپل کلتوري یرغل تر سره کړي!

ډېر افغانان نن سبا د ایران لخوا د امریکا د یوې نیول شوې یا ویشتل شوې نظامي الوتکې پېښې تر بحث لاندې نیولې دي، چې ګواکې ایران ډېر قوي نظامي الکترونیکي سیستم لري او د امریکا داسې د نوي تخنیک الوتکه یې په خپله خاوره کې ښکته کړې ده، خو داسې هم ویل کېږي، چې دغه الوتکه بیا ایران په لوړه بیه په چین پلورلې ده، ځکه چې ایران د دغه نوې تکنالوژۍ د څېړنو لپاره تخنیکي امکانات نه لري.

په افغانستان، ایران او پاکستان کې د سیمې د بربادۍ هلې ځلې روانې دي. افغانستان د ۳۰ میلیونو په نفوس تر ۷ میلیونو مهاجرین درلودل، که په ایران یرغل وشي، نو د ۸۰ میلیونو له نفوسه یې چې ۱۰ میلیونه بې ځایه شي، نو په سیمه کې به داسې د لوږې او بې امنیتي حالت رامنځ ته شي، چې پایله به یې د ټولې سیمې لپاره وژونکې وي او

که په پاکستان کې ټولنیزې نا انډولتیاوې رامنځ ته شوې نو له ۱۸۰ میلیونو خلکو هرومرو ۳۰ میلیونه په افغانستان ننوځي، نو بیا به سیمه څه کوي، هېڅوک هم نه پوهېږي.

پایله

د افغانستان جیوپولیتیک موقعیت د دې امکانات رامنځ ته کوي، چې له نړیوالو ځبرځواکونو سره د تفاهم لاره خپله کړو، په افغانستان کې د امنیت تضمین ترې وغواړو او په سیمه کې په اقتصادي چارو کې افغانستان ته مرکزي او غوره رول ترلاسه کړو. د سیمه ییزو اړیکو سره سم افغانستان د منځنۍ آسیا او د هندو-چین تر منځ یوه لویه ترانزیتي لاره وګرځي او د سمې اقتصادي ودې لپاره په افغانستان کې د تولیدي پرمختګونو بنسټونه کېښودل شي، چې افغانستان یو خوداکتفا مملکت شي. دغو موخو ته د رسېدو لپاره له سیمې د امریکایانو وتل حتمي دي او په افغانانو کې د یووالي روحیه او هېوادپالنه اړین اړخونه د هوسا ټولنیز ژوند او تخنیکي پرمختګ دي. دیني مناسک او عبادت باید لکه تبلیغیان په کوڅو کې تر سره نه شي، برعکس د عبادت لپاره جوماتونه شته، ، تکیه خانې شته، دیني مرکزونه شته او د هندوانو لپاره درمسالونه، د عیسویانو لپاره کلیسا او د یهودانو لپاره سېناګوګ شته، نو د ښار په کوڅو کې ځانونه وهل او ټکول، د افغانستان د نورو مذهبي فرقو احساسات او کرکه راپاروي، چې پایله یې هغه څه دي، چې په ابوفضل کې تر سره شول !

په درنښت

دغه دوه فلمونه هم وګورئ، چې د موضوع په حساسیت مو سر خلاص شي !

http://www.youtube.com/watch?v=JiXlHtBMejg&feature=g-logo

http://www.youtube.com/watch?v=8o5BsLsC5xg&feature=related